دانټرنیټ دفارسی منابعو څخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# د بشری حقونو څارونکی ګزارش ورکړ !
# په افغانستان کې د امریکا د یرغلونو په ترخ کې د غیر نظامیانوپه وژنه کې دری ځلی زیاتوالی راغلی دی :

د بشری حقونو څارونکی په یوګزارش کې ولیکل : په افغانستان کې د غیرنظامی او بی ګناه خلکو وژنه د امریکا او د ناټو د ځواکونو د یرغلونو په ترخ کې دری ځلی زیات سوی دی .



دبشری حقونوڅارونکی په داورستیوورځوکښې دیوګزارش په خپره ولوسره دافغانستان دامنیتی وضعیی په هکله خصوصأ دافغانستان دبی ګناه خلکودوژنو په اړه یې چې دناټواو دامریکایی ځـــواکـــونوپه وسیله په دی هیواد کـــې رامنځته سویدی دغیر نظامی

افغانانو دمنځه وړل او وژنه د(۲۰۰۶- او- ۲۰۰۷) کالنوپه پرتله دری ځلی زیاتوالی پیداکړی دی .
په دی ګزارش کې راغلی دی : دناټواودامریکا دهوایی ځواکونو دیرغل له کبله ددریوکالنوپه اوږدوکې دغیر وسله والواوغیر نظامی خلکو وژنه دری ځلی زیات سویدی ،چې دغه موضوع دافغانانودډیر تندعکس العملونوسره مخامخ سویدی ، ددی ګزارش پربنسټ دسږکال داوو(۷) میاشتوپه موده کښې لږترلږه (۵۴۰) پینځه سوه څلویښت تنه غیر وسلوال اوغیر نظامی افغانان دافغانستان په دا روان اخ اوډب اوجګړوکښې وژل سویدی چې ددی جملی څخه (۱۱۹) یولسونهولس تنه یې دناټواودامریکایی ځواکونوپه هوایی بمباردونوکښې وژل سوی اوخپل ځانونه یې دلاسه ورکړیدی .

او همدارنګه په دی ګزارش کې لیکل سویدی چې دناټوځواکونه په خپل یو هوایی یرغل کې دجولای په میاشت کې دیوواده دجشن پر مراسموباندی په یوبمباردکښې چې (۴۷) اوه څلویښت کسه ټوله یې بی ګناه ښځۍ اوکوچینیان وو ووژل سول .

دبشری حقونو څارونکی زیاتوی : په افغانستان کې په (۲۰۰۸) کال کې په پراخه پیمانه سره هوایی یرغلونه ترسره سویدی .په (۲۰۰۷) م کال کې دناامنیوپه وړاندی په مبارزه کې د(۲۰۰۶) کال په پرتله دوچنده بمباردونه صورت نیولی دی چې حتی دغه بهیر په (۲۰۰۸) م کال کې یې ډېره چټکتیا موندلی دی ترهغه ځایه چې یوازی دجون اوجولای ددوومیاشتوبمباردونه ، د(۲۰۰۶) کال دبمباردونو سره مساوی دی .

"براد آدامز"،دبشری حقونودسازمان داسیایی څانګی مدیر په دی اړه وایی ، دناټواود امریکادځـواکــونوتیروتنـــی دافـــغان اولس ملاتړیې هـــم دافغانستان ددولت نه اوهم دپردیو دبهرنیوځواکونودشتون په هکله یې په پراخه ډول سره رالړ(ټیټ) کړی دی .

دبشری حقونودڅارونکی ډلی ګزارش په داهسی شرایطوکې خپورسویدی چې امریکایی بی پیلوټه جګړیزی الوتکی څوورځی مخکې دپاکستان په شمال لویدیزوقبایلی سیموکښې دافغانستان ویولوته نږدی (۲۳۰ – دوه سوه دیرش )تنه چې اکثره یې غیرنظامیان (ښځې اوکوچینیان )وو ووژل .

# ناټووایی په افغانستان کې د خپل واک لاندی نظامی قوانینوکې دسره غور اوکتنه کوی

یوکال کیږی چې دناټودیرغلونوپه ډېریدلوسره دافغانستان پرغیر نظامی اوغیروسله والو خلکو باندی تیریږی اودا په داهسی حال کې دی چې دبشری حقونودڅارونکی د وروستنی ګزارش پربنسټ لیکل سویدی :د ښږ کال په بهیر کې دناټویرغلونه دری چنده زیاتوالی یې پیداکړی دی . تیره اونی دامریکا جنګی الوتکی غیر نظامی ځایونه یې په پاکستان کې دافغانستان ویلوته نږدی بمباردکړی چې په نتیجه کښې (۲۰) شل تنه غیر نظامی اوبی ګناه اولسی خلک ووژل سول،اوددی سبب وګرځیدی چې په اسلام آبادکې دامریکا سفیر یې دبهرنی چارو ووزارت ته یې راوغښتل ، اوهمدارنګه دافغانستان جمهوررئیس حامد کرزی هم په دی هکله خوځلی دجورج بوش دامریکا دجمهوررئیس سره په تیلیفونی خبراتروکښې یې دخپل ځان اودافغانستان دخلکونارضایتی یې د دی بهیرپه هکله څرګنده اواعلان کړ . دناټوچارواکی بلاخره پسله څومیاشتوزغم څخه ،دافغانستان دخلکودټولیز فشاراوپه مبارزه کې دهرډول بدلون په وړاندی یې،په یوه بیانیه کښې نوي نظامی قوانین یې ددی سازمان دځواکونودپاره په افغانستان کې وټاکل .

په افغانستان کې د تیری اونی په هوایی یرغل کښې د(۹۰) نهوی تنووژل کیدل دهغه جملی څخه د(۶۰) شپتوتنوکوچینیانو وژل کیدل اصلی دلیل په دی بدلون کې دناټو په راتلونکی چاروکې اعلان سویدی .

ژنرال دیوید مکګرنان چې په افغانستان کې دناټودقوماندان دنده په غاړه لری ددی خبر داعلان په ترڅ کې دامریکایی ځواکونوڅخه هم وغوښتل چې دافغانستان دوژل سویوغیرنظامی اوغیر وسله وال افغان اوسیدونکی موضوع دی دخپل دکار دپلان څخه لیری نکړی اودافغانستان ددولت ددی ادعا پربنسټ چې غیر نظامی خلک وژل سویدی دمسئلی هر اړخیزه څیړنه دی ترسره کړی .

دناټوددی نویوقوانیوپربنسټ ددی سازمان ځواکونه دی هرومرو دطالبانواودالقاعدی د تروریستی شبکی په له منځه وړلواودکورپرکورپه پلټنی دی پیل وکړی . اودپلټنی دتیم لاربښودنه دی هم دافغان ځواکونوپر اوږه کښیښودل سی اوهمدارنګه دناټوځواکونه دیوکوردپلټنی امر اواجازه دی باید دافغانستان دپولیسوڅخه تر لاسه کړی وی .

ناټوتیر میلادی کال دیوشمیر دکار وړ بمونودوزن اودشمیر دکاراخیستنی په مورد کې یې یوڅه محدودیتونه یې رامنځته کړی وو چې همدارنګه په ځینوموارد‌وکښې دغه محدودیتونه ندی مراعت سوی . همدا اوسمهال څه چې دطالبانودیرغلونونه مخکې دناټوپه ږغوږوغ اوښتی دی دافغان اوسیدونکودنارضایتی بهیر،ددی سازمان دجنګی الوتکو دبی موخی یرغلونو له سبب رامنځته سویدی ،دناټو اودامریکایی ځواکونودکریډیټ ټیټوالی له یوی خوا نه چې دیس کریډیټ سویدی او دځان وژنی یرغلونه اودکنترول وړ بمونو ایښودل دلیر ی ځایه څخه دبل خوانه ،دافغانستان پردولت باندی دمحاصری دکړۍ (حلقی ) دکوچنیی کیدوباعث ګرځیدلی دی . دناټویوچاروا‌کی په دی هکله وایی : په افغانستان کې یوازی یوه لاره دغیرنظامیانودوژنودمخنیوی دپاره شته دی چې هغه دناټو کارمندانوته خبرورکول دی اوبس ،نودناټودنظامیانودپوره زده کړی وخت رارسیدلی دی . ځمکنی ځواکونه چې په حقیقت کې دا‌طلاعاتودورکول دندی اودموخودځایونوپه نښانی اودټاکنی په موردکې دغه مسئله پرغاړه لری باید په ډېر ځیر اوپاملرنی سره اوداوسیدونکواوغیرنظامیانودځان ساتنه دی دموخودمعرفی کولودپیل دمخه دی په نظر کې ولري .

یواروپایی جګپوړی چارواکی چې وی غوښتل نوم یې وانه خیستل سی په دی موردکې یې وویل : دبی ګناه اوغیر نظامی خلکواواوسیدونکو وژنه، دافغان اوسیدونکودزړه اوددهن داخیستلودپاره دغه مناسبه لاره نده .

دغه ادعا په داهسی حال کې دلویدیزچاروا‌کی چې دناټوغړی هم دی همداهسی وایی ،په همدی ډول سره ویل کیږی چې لویدیز مشران په یو ږغ سره په دی باوردي چې دطالبانودخطردمهارکولودپاره یوازی یوه لاره شته دی ،هغه هم هوایی یرغلونه دي ځکه چې دکورپه کورلټه ول دالقاعدی دمشرانودپټیدودځایونودکشف امکان هم رامنځته کوی .

دبشری حقونو څارونکی ،چې دفتر یې په نیویارک کې دی څوورځی مخکې په خپل وروستنی ګزارش کې دافغانستان دامنیتی اوضاع په هکله یې اعلان وکړ چې دافغانستان د غیرنظامی اودبی ګناه خلکو وژنه په دی هیوادکې په یوکال کې بی حده زیات سوی دی .

دبشری حقونودڅارونکی ډلی،ددی ارګان په دی وروستنی ګزارش کې راغلی دی دتیر کال دجولای دمیاشتی څخه چې دناټو واکمن نظامی قانون بدلون موندلی دی دغیرنظامی اوبی ګناه اوسیدونکو وژنه راټیټ سوی وو،مګر د دغه روان کال په اوږدوکښې په یووخت کې دناټواوهم دامریکا دځواکونوپه هوایی یرغلونوکې دغیرنظامی اوغیروسله والوافغان اوسیدونکووژنه اودمنځه وړل زیات سویدی .

په افغانستان کې دناامنیو دډېریدوله کبله په واشینګتن اولندن کې دخطر زنګونه په ږغ راغلی دی ،دکابل - قندهار لویه لاره اوس مهال په افغانستان کې دخطرناکترینه لاریودجملی څخه دی چې په سپینه ورځ باندی دورځی په اوږدوکې څوځلی دبم ایښودلوموخی ګرځی .

همدارنګه په یووخت کې په افغانستان کې دناامنیودمخ په ډېریدوسره داهسی ګنګوسی اوآوازی هم ترغوږوورارسیږی چې په وراتلونکو(اتلسو- ۱۸ )میاشتوکښې کیدی سی چې هالنډی اوکاناډایی ځواکونه دافغانستان څخه ووځي .

لویدیز چارواکی په افغانستان کې په روانه جګړی کې دخپلوسربازانودوژنی له کبله اوددغه مسئلی دمخنوی په هکله څوځلی ټینګار کړیدی چې پرطالبانوباندی یوازنی دبری لاره ،دناټواودامریکا دځواکونوترمنځ کامل اوټولیزیووالی دی .

دافغانستان دولت اواردو،دامریکی دنوی جمهور رئیس دټاکل کیدوډپاره شیبی شمیری . دجمهوری ریاست دټاکنی رقیب جمهوریت پلوی نوماندی جان مک کین اعلان وکړ کله چي په ټول ټاکنوکي بری ترلاسه کړی،نوافغانستان ته به نورډیرسربازان ولیږی اوداپه داهسی حال کې دی چي سناتورباړک اوباما دموکرات نوماندی بیا وایی چې ترلسوزروڅخه ډیرتره نورسربازان به وافغانستان ته ولیږی .

# دواشینګتن دنړیوال استراتیژیکوکړنلارو دڅیړنود مرکزرئیس !

# امریکا په افغانستان کې د جګړی بایلونکی دی :

دامریکادنړیوال استراتیژیکوکړنلارودڅیړنود مرکزرئیس په اشاری سره دافغانستان دنامطلوبه امنیتی اوضاع په هکله یي وویل :امریکاد افغانستان په جګړه کې یي ماته خوړلی دی .



"آنتوني کوردسمان" په يوي مصاحبی کښي دامریکا دبهرنی اړیکودشورا دڅیړنودمرکز سره دعراق اوافغانستان دجګړی په هکله وویل : په عراق کې په امنیتی وضعه کې دپخوا په پرتله ډیر پرمختګونه رامنځته سوی دی ،مګر دعراق په جګړه کې د ا پرمختګونه ،هیڅکله دامریکا بری نه شمیر ل کیږی .دی زیاتوی : لاتراوسه دعراق په سیاسي برخو کې ډیر پیچلي مسایل شته دی چي هرومرو ودی مسائیلو ته دی ځواب ورکول سی .
کوردسمان په دی مصاحبی کښي په افغانستان کې دځواکونوددډیریدلوداړتیا په هکله یي وویل : شاوخوا( دری – ۳- الی- ځلور – ۴) کاله دافغانستان داردواودپولیسودجوړه ولودپاره وخت ته اړتیا سته دی .
دواشیګتن دنړیوال استراتیژیکوکړنلارودڅیړنود مرکزرئیس ددی پوښتنی په ځواب کې وویل : که امریکا دعراق دجګړی بایلونکی دی اوکه نه دی ؟ په دی موضوع کې هیڅ ډول شک اوتردید نه سته ،چي امریکا دافغانستان په جګړی کې ماته یي خوړلی دی . دی وایی : یودهغو پرابلمونواومشکلاتوڅخه چي موږدامریکایانو ترسرلیک لاندی لرويي هغه دا دی چي موږ دافغانستان دخلکودفرهنګ دکامل بدلون اودهغوی اړه ول په هغه خلکوباندی لګه زموږپه شان ،موږکاملاً نا هیلی یو .

# ګارډين وليکل : دغيرنظاميانواودبی ګناه خلکود دزياتو وژنو پر دليل!

# ناټوپه افغانستان کې خپل شتون يوټاکلی حدته راولی :

يوی انګليسی ورځپاڼی په افغانستان کې دغيرنظامی اوغيروسلوال خلکودوژنوپرډېريدويې وليکل : ناټوپه دی هيوادکې دغيرنظامی اوغيروسله وال خلکو دزيات وژنودمخنوی د پاره خپل دلاسوهنی مقررات ،ويوټاکلی حد ته يې راولی .



د((ګارډين )) ورځپاڼی دتيری اونی په يوی ګڼی کې وليکل : ناټوپه افغانستان کې دخپل شتون په اړه نوی نظامی قوانين يې دغير نظامی اوغير وسله وال خلکودوژنودمخ نيوی دپاره صادر کړ . ددغه انګليسی ورځپاڼی دګزارش پربنسټ دتيری مياشتی دهوايی يرغل راوروسته چې دشپږتو تنو کوچينيانوپه ګډون (نهوی- ۹۰) کسه غيرنظامی افغانان ووژل سول دغه نوی قانون يې تيره اونی په افغانستان کې وخپل ميشته ځواکونوته يې صادر کړدبله خوا څخه په ناټوکې له دی کبله ډېره څارنه رامنځته سوی دی چې په دی وژنوکښې لويه اواکثريته برخه ټوله يې پښتانه قومونه دی چې وژل کيږی .

ګارډين ددی ليکنی په ادامه کې ليکی :امريکايی ځواکونه په داوروستيوکښې دافغانستان په سويلی برخوکښې خپل ځايونه يې پياوړی کړی دی اوهمدارنګه ويل کيږی چې جنرال "جان نيکلسون" چې دښوربښ ضد يو کارپوه دی په راتلونکی اونيوکښې وافغانستان ته ولاړسی ./

14092008

# *www.ayenda.org*